مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: سراج الحق ببرک زی خُدران ۲۰۲۴/۰۲/۲۱

د چيني ـ پښتو قاموس ليکلو لپاره درې لسيزې مبارزه

له درې لسيزو او ډيرو نورو ورکو کلونو ورسته بالاخره چينايي ژبپوه د چيني ـ پښتو قاموس بشپړ وليکلو. افغان ولسمشر اشرف غني د خپلې ولسمشرۍ پرمهال چينايي پوهاند ته د درنښت کولو له امله د سيد جمال الدين افغان مډال د چيني ـ پښتو ژبې لومړنۍ قاموس ليکوال او زمونږ مورنۍ ژبې ته د ستر تاريخي خدمت په لړ کې ورته ډالۍ کړ. ښاغلی چې هونګ ځاي له دې امله ډير خوشاله و، چې د چين او افغانستان په کولتوري، سياسي او ادبي اړيکو کې مهم رول لوبولې دی. اصلي خبره دا ده چې خلک د بهرني ژبې زده کړه د خپلو هيواد په ملي ګټو کې کاروي. يوه پردۍ ژبه زده کول ډېرې ګټې لري. د ژبې زده کړه زمونږ کولتوري ورټيا ته وده ورکوي. د پردۍ ژبې زده کړې سره تاسو يو هوښيار سړی بريښي. بله ژبه زده کول يو کمال دی. حتی که تاسو د ستر عمر خاوند هم وی. د ژبې زده کړه، تاسو ته په کاري مسلکي ژوند کې نوي دروازې پرانيږي. د ژبې زده کول ډير په زړه پوری وي، تاسو له نورو خلکو سره ډېلوي. د ژبې زده کړه تاسو يو اجتماعي او له زغم ډک انسان جوړوي او بالاخره تاسو پر خپل ځان نوره باورمندي او د ډاډمنتوب احساس ترلاسه کوئ.



په 1978 کال کې د افغاني ژبې قاموس ليکل پيل شول. په 2014 کال کې د پښتو چيني ژبې قاموس بشپړ وليکل شو. تمه داسي کيده، چې دا قاموس به د پاموړ لوستونکو لپاره ګټور پريوځي.
د چينايي مجلې پروفايل د راپور په بنسټ د چين پراخې غني ځمکې يوه تکړه ژبپوه چيني ـ پښتو قاموس ورسته له 36 کلونو بشپړ کړ. پروفيسور ښاغلی چې هونګ ځاي د خپل 36 کلن ماموريت په اړه خبرې کړي دي، چې څنګه د پښتو ـ چيني ژبې قاموس يې بشپړ وليکلو. دغه ليکنه د همدې چينايي پروفيسور ژبپوه او لوړ پوړي ډيپلومات په اړه او زمونږ مورنۍ ژبې پښتو ته د ستر خدمت په اړه ليکل شوي ده.
پروفيسور ښاغلی چې هونګ ځاي په لومړيو کې د بيجينګ د بهرنيو مطالعاتو په پوهنتون کې انګليسي ژبې زده کړه، بيا د چين بهيرنيو چارو وزارت له لوړې له 1959 څخه تر 1963 کلونو پورې کابل پوهنتون ته د پښتو ژبې د زده کړې لپاره واستول شو. کله چې د چين دولتي شورا په 1975 کال کې د 160 بهرنيو ژبو لپاره خپل ملي ماموريت معرفي او اعلان کړ.
په 1975 کال په چين کې په چيني ژبه کې يوه معياري ډکشنرۍ هم چاپ شوه. پروفيسور چې هونګ ځاي همدې چيني ډکشنرۍ ته په کتو سره د نړۍ لومړنۍ پښتو ـ چيني قاموس رامنيځته کولو او ليکلو لپاره يوه ډېر ښه انتخاب وګرځيد. په 1978 کال کې نوموړي ته د چين سوداګريزې مطبعې لخوا د قاموس ليکلو دنده وسپارل شوه. کله چې نوموړي د قاموس په تاليف او تدوين باندې بوخت شو، چې هونګ ځاي خپلې ټولې هڅې او وخت په تاريخي او مذهبي متنونو باندې لګول. معمولاً له ګهيڅه تر ماسپښين يوازې د يوې کلمې په مطالعه کولو او څيړلو باندې لګول.
په هر صورت د قاموس ليکل او جوړيدل څه باندې 36 کاله وخت ونيولو. دا ځکه چې ښاغلی پروفيسور چې هونګ ځاي د 1980 لسيزې په ورستيو کې د افغانستان او پاکستان لپاره د سفير په توګه وليږل شو. په 1990 لسيزو کې د افغانستان د کورنۍ جګړې له امله هم قاموس ليکل وځنديدل. پروفيسور ښاغلی چې هونګ ځاي کمپيوټر ته لاسرسی نه درلود. نو د هرې کلمې ژباړې او مانا ثبتولو لپاره يې 100000 نوي کارډونه د ليکلو لپاره جوړ کړل. چې په

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

کې ټوټال 2,5 ميليونه کلمې راټولې شوې وې. د چين سوداګرۍ مطبعې اداري بيا تر 100000 زياد کارټونه چې هونګ ځاي د هڅو او زياريستلو شاهدت ورکولو لپاره د ژبو پلټولو تاريخي زيرمتون کې خوندي کړي.
حتي د چاپ مطبعې خپل کميشن يا اوجوره هيرې کړي وه. کله چې په 2014 کال چې هونګ ځاي د بيجينګ په وانګ فوجينګ ولسوالۍ کې د سوداګريزو مطبعې دفتر په زينو ورځتلو. د خپل تخر لاندې د 52000 نسخو سره د چين بهرنيو ژبې قاموسونو ځانګې ته د لاربښووني لپاره ورروان و. چې هونګ ځاي په دې موده کې خپل تاريخي رسالت او ماموريت هېڅکله هير نه کړ او په خپل کار باندې کلک ولاړ و او دوام يې ورکولو. سره له دې چې په همدې موده کې يې د کرهنې وزارت مامور، د پوهنتون استاد، د راډيو، فلم او ټلويزيون د دولتي اداري د کارمند په توګه او بهر کې د چين سفير په توګه دندې اجرا کړې او د ټولو شاملو ستونزو سره دې نازکو حساسو علمي ادبي کارونو ته وده ورکوله، د نړۍ په يوه ناکراره سيمه کې ژوند کول، د لسيزو راهيسې د بېلابېلو ګوابنونو او سختو هڅو ورسته بيا هم د چيني ـ پښتو قاموس بالاخره شل کاله مخکې د 2014 په پای کې چاپ او خپور کړ.
د چې هونګ ځاي څخه پوښتنې شوې، چې کله تاسو په 1957 کال د بيجينګ د بهرنيو مطالعاتو په پوهنتون کې د انګليسي زده کونکی په توګه نوم ليکنه وکړه. د پښتو ژبې د زده کړې لپاره افغانستان ته بيا څنګه ولاړې.؟
چې هونګ ځاي وايي: يوه ورځ زما د پوهنتون د دريم کال په بهير کې زمور د ګوند د انګليسي ځانګې څخه ما ته خبر راکړل شو، چې دوی د هغو زده کونکي په لټه کې دي، کوم چې د بهرنيو ژبو په زده کړه باندې بوخت دي. له دې امله زه د بهرنيو ژبو زده کړې لپاره غوره شوم. دا ټول همداسې وو، زما شخصي انتخاب په کې نه وه، کار په خپله وشو. زما د همځولو يا نسل خلکو لپاره د ټرونونو منل او پلي کول مهم ول. د دولت حکم زمور لپاره شخصي اراده وه. د لوړو زده کړو وزارت د هيواد په کچه د بهرنيو ژبو ځانګې شاخوا سلو تنو ته دوه مياشتنې روزنيز پروګرام په لاره اچولي و. څو بهر ته په ځانګړې توګه نورو اسيايي هيوادونو ته ولېږل شي. د روزنې پروګرام ډېره برخه ايډيالوجيکي زده کړې وې، لکه د لږکيو ژبو زده کړه او د ډيپلوماتيکو اصولو او پرانسيبونو د زده کړې اهميت په اړه زده کړې وې. مور نه پوهيدو، چې مور به کومه ژبه زده کوو، کله چې مور ځانونه راجسټر کړو، مور پېنځو ملګرو ته پته ولګيده، چې مور بايد افغانستان ته لاړ شو. مور په دې هم نه پوهيدو، چې په افغانستان کې کومه ژبه ويل کيږي. مور د افغانستان په اړه هيڅ نه پوهيدو، پخوا چې هر څوک بهر ته د زده کړې لپاره تلل، هغه شوروي اتحاد ته تلل، خلکو پوښتنه کوله تاسو افغانستان ته د زده کړو لپاره ځي.؟ بيا يې ويل: چې دا د شوروي اتحاد پورې ټرلي کوم هيواد دی.؟
په افغانستان کې د پنځوسمې او شپيتمې لسيزو په ورستيو کې زده کړه په څه ډول وه.؟
مور د لوړو زده کړو لپاره کابل پوهنتون ته ولاړو او مور د پوهنتون لپلي په ځای د چين په سفارت کې اوسيدلو. افغانستان د يو ګاونډي هيواد په توګه د چين په وړاندې ډير محتاط هيواد و. زمور د ايډيالوجي او نظرياتو څخه ويره درلودله، چې مبادا مور به د دوی په زده کونکو باندې سياسي اغېز وکړو. ان په کابل کې د چين سفارت دې ته ترجيع ورکوله، چې مور بايد په سفارت کې واوسو. په پيل کې مور حتی د پښتو په ابېځې نه پوهيدو. ځکه تر دې دمه هيڅ يوه چينايي پښتو ژبه نه وه زده کړې. نو مور پښتو له يوه ښوونکي څخه په انګريزي ژبه کې زده کړه. د کابل پوهنتون لخوا زمور لپاره په ځانګړې توګه يو ښوونکی ګمارل شوې و. په ټولګي کې يوازې مور دري چينايان او يو زور جاپانی زده کونکي و. په لومړی سر کې استاد په خپله نه پوهيدو، چې مور ته څنګه زده کړه راکړې. استاد په تخته کې ليکل، خو مور هيڅ نه پرې پوهيدو، چې دا څه شي دي. مور پوښتنه وکړه، چې ايا د پښتو ژبه الفبا يا ابېځې لري.؟ مور استاد ته لاربښوونه وکړه، چې څنګه هغه مور ته د پخوانيو ژبو د زده کړې او تجربو پر بنسټ د پښتو ژبې درس ورکړي. له اتو مياشتو ورسته مور وکول شول، څو مور د کابل پوهنتون د ادبياتو پوهنځي په څانګه کې ځيني منظم کورسونه په بريالیتوب سره پای ته ورسوو.
د 1959 کال څخه تر 1963 کال پورې د پوهنتون په درېو کلونو کې مور نه د اوړي او نه د ژمی رخصتی درلودې. مور په سفارت کې خوراک، څښاک کولو او اوسيدلو. زمور د اوسيدلو شرايط، مقرارات ډير سختګيره وو. د سياسي زده کړو لپاره ډيرې غوندې کيدلي، خو کله چې مور بهر ته تلو، مور بايد لږ تر لږه د دوو کسانو په ډله کې تللي واي.
افغانستان د پاچا تر واکمنۍ لاندې نسبتا يو ډير ارام او امن هيواد و. همدارنګه زمور ژوند هم هلته ارامه و. زمور تمرکز د سفارت او پوهنتون ترمنځ په مطالعې او تګ راتګ باندې وو. کله کله به مو افغان محصلينو ته د واليبال لوبې کولو بلنه هم ورکوله. د يوه ځوان لپاره په سفارت کې د ننه دا ډول ژوند په چين کې له چينايي ژوند سره ډير توپير نه درلود. البته دومره بايد ووايم، چې دا دوره د چين له قحطی او د چين او شوروی اتحاد د اړيکو خرابيدو څخه اغېزمنه وه. مور په دې اړه هيڅ نه پوهيدو او مور فکر کولو چې دا به په مور باندې اغېز ونه لري. دا ډول خبرې د سفارت لخوا زمور څخه پټې ساتلې کيدلې. حتی مور د شوروي په سفارت کې د شوروي محصلينو سره ليده کاته او ناسته پاسته درلودې. مور فکر کولو چې مور لا هم د دوی له هيواد سره ملګرتيا لرو. يو ځلې روسانو مور ته د خروشچوف د فکرونو او کارونو په اړه په کاغذ کې ليکلې څه راکړل. کله چې مور سفارت ته بيرته راغلو، پر مور باندې سختې نيوکې وشې، چې تاسو ولې د خروشچوف کاغذونه اخيستي دي او راوړي مو دي. ښه تاسو فکر وکړي، چې مور له کومه په دغه خبره باندې پوهيدلې واي.
چين ته د بيرته ورستنيدو ورسته څه پېښ شول.؟

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

کله چې په چين کې کولتوری انقلاب پيل شو، ټول پوهنتوني څيړنې او مطالعات ودرول شول. زده کونکې په تانکشان کې په پوځ کې خدمت ته واستول شول. زه هم په 1969 کال کې وستول شوم. ما په يوه فارم کې کار کولو او هره ورځ به مو په پوځي تمريناتو کې برخه اخيستله، خو دا خورا سخت وختونه ول.

په پښتو ـ چيني ډکشنري باندې مو څنګه کار پيل کړ.؟
په 1975 د چين دولتي شورا پلان درلود، چې د 160 ژبو ډکشنرياني وليکلي او چاپ شي. د چين سوداګريزې مطبعې ته دنده وسپارل شوه، چې د پښتو ـ چيني قاموس چاپ او خپور کړي. د چين د سوداګرېزو چارو چاپ مطبعه په چين کې د چاپ صنعت په برخه کې اوږد تاريخ او مشهور نوم لري. د چين دولتي شورا د مرستې ترلاسه کولو لپاره د چين نړيوالې راډيو ته مخه کړه، چې مور يوه قاموس ته سخته اړتيا لرو. نو مور د دوی دغه غوښتنه او ماموريت ومنلو. زه بيرته د بېجينګ نشراتي انستيتوټ يا د چين اوسنۍ د مخابراتو پوهنتون ته ولاړم، ځکه د دې قاموس د چمتو کولو او راټولولو لپاره مناسب چاپېريال برابرول.
تر 1982 کاله مور په قاموس باندې کار وکړ. کله چې د ژبې ډيپارټمنټ له ما وغوښتل، چې د نړيوال ژورنالېزم لپاره د يوې مسلکي څانګې رغولو امکانات وپلټم، په دې وخت کې مور 10000 د حرفوي لغاتونو ماناوې په کارټونو کې ليکلي وو. ډيرش الماري له کارټونو او دوسيو ډکې وې.
د چين تجارتي چاپ مرکز لخوا د چين دولت د حکم پر بنسټ د پښتو ـ چيني قاموس چاپولو چمتووالي ونيول شو. د کار په بهير کې دغه کارټونه څو ځلي ورک شول، وغورځول شول او خراب کړل شول، ځکه نور خلک په دې نه پوهيدل، چې دا کارډونه څومره ارزښت لري. له دې امله يې سمه هم ساتنه نه کيدله. که څه هم پرې شپږ ديرش کلونه تير شول، خو پايله يې ډيره ښه وه، يو ښکلي او لوړ معياري قاموس چاپ شو.
ځيني وايي: چې تاسو په هرو زرو کلمو باندې اته سوه چېني ينه اخيستي دي ايا دا خورا ټيته حق الزحمه يا معاش نه دی. چې هونګ څاي په خندا کې وويل: که ريښتيا ووايم، ما هېڅکله د معاش په اړه فکر نه دی کړي. مور غوښتل چې راتلونکی چينايانو ته يو څه په ميراث پرېږدو. دا يو داسې کار دی، چې بايد وده ورکړل شي، که مور دا کار يوازې د پيسو لپاره کولې، نو مور به دا کار ډير دمخه پرېښودلی وای. دا کار د پيسو يا شهرت لپاره نه دی شوي، دا هغه څه دي،، چې په دې کې زما د زړه د مېنې ليوالتا پرته ده. چې هونګ څاي ګولوبل ټايمز ته ويلي دي، چې هيله لري، چې دا به په چين کې د پښتو زده کړې ته وده ورکړي.

د افغان مطالعې خونه
په بېجينګ کې د چې هونګ څاي په کور کې د کاري دفتر په ميز کې د غره په څير د چيني او پښتو اصطلاحاتو شاخوا 100000 د لغاتونو کارټونه راټول کړل شوي وو. د غره په دې سترە پژوره کې يو چراغ او يو لپټاپ پروت و. داسې ښکاريدل چې په دې عصري زمانه کې د قاموس جوړولو اړتيا خورا ډيره لوړه شوې، خو د زوړ چې هونګ څاي په څير يو سړی چې د سترګو ليد يې کمزوره شوي دی، يوه سترە ننګونه وه. د نوموړي زوی چې ران په ياد لري، چې کله هغه کوچنی و، د هغه د اوسيدو په خونه کې يوه لويه دوديزه چينايي الماري اينښودل شوي وه. دغه د لغاتو کارټونه د موضوع له مخې ترتيب شوي او د لسيزو راهيسې دلته تړلي پاتې شوي وو. له پلار يې بل هيڅوک نه پوهيدو، چې په دې کې څه شي ليکل شوي دي.

افغانستان ته د يو استازي په توګه د ستاسو سفر څنګه و.؟
په 1950 لسيزه کې له پښتو ژبې سره د چې هونګ څاي لومړنی اړيکه په افغانستان کې پيل شوه. کله چې چين له نويو خپلواکو اسيايي، افريقايي او لاتين امريکي هيوادونو سره ډيپلوماتيکو اړيکې ټينګې کولې. په 1959 کال کې د بېجينګ د بهرنيو مطالعاتو په پوهنتون کې د دريم کال محصل په توګه د کابل پوهنتون د کولتوري انستيتوټ د څلور کلنې تبادلې پروګرام کې د پښتو ژبې د زده کړې لپاره کابل ته وليږل شو.
چې هونګ څاي په ډېره ليوالتيا او جذابيت سره په ياد لري، چې ډيرې زده کونکې کمونيستي هيوادونو ته وليږل شول، په داسې حال کې چې افغانستان هغمهال يو پاڼګوال هيواد و. د چې هونګ څاي لپاره داسې فرصتونه ډير لږول. د چې هونګ څاي لومړنی ښوونکی د يوې محلي مجلې مدير و. په پښتو او انګليسي ژبو يې خبرې کولې، چې په ياد لري، په لومړي ټولګي کې ښوونکی هر څه پر تخته باندې ليکل غوښتل، ځکه د تدريسي موادو کمښت وو.
چې هونګ څاي په ياد دي، په کابل کې د زده کړې هغه کلونه په زړه پورې ول، خو مور تر سختې څارنې لاندې وو. افغان لوري ويره درلوده، چې هيواد به يې د چېنايي زده کونکو د نفوذ لاندې شي. دا مهال دغه ماموريت لږ له پامه غورځيدلی و، ځکه دري کاله ورسته چې هونګ څاي چين ته ورستنېږي او د چين د مخابراتو په پوهنتون کې د پښتو ژبې د استاد په توګه خپله دنده پيل کړه. چې هونګ څاي يو ځانګړي استعداد خاوند په توګه په مکرر ډول د چين بهرنيو چارو وزارت په ځينو دندو وګمارل شو. چې هونګ څاي د بهرنيو چارو وزارت لپاره د ژباړې څخه رانيولې تر د چين نړيوالې راديو لپاره خپرونې، حکومتي کارونو او راپورونو ژباړې پورې هر څه ترسره کول.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په 1975 کال د چين مطبعي په سپارښتنه چې هونګ ځاي او د هغه شاګرد سونګ کيانګمين ته دنده وسپارله چې د چيني ـ پښتو قاموس تاليف کړي. چې هونګ ځاي دغه ماموريت په ډيره باورمندي سره ومنلو. فکر کولو چې په څو کلونو کې به يې بشپړ کړي. دې پروژې ته هيڅ ډول مالي مرسته په پام کې نه وه نيولې شوې.
له دې امله هيڅ ډول مالي تمويل ورته په پام کې نيولې شوې نه وو. د چين راډيو څخه د پښتو ژبې د ټايپ يو ماشين په پور اخيستلې و او د چاپولو لپاره يې د يوه شرکت څخه کارټونه او کاغذونه سکرييونه اخيستي وو. ښوونکي او شاګرد دواړو په ځلور کلونو کې په پېنځه متر مربع دفتر کې 100000 د لغاتونو کارټونه د تشريحاتو او ماناو سره په ترتيب ليکلي وو. کله چې د نا څرګندو اصطلاحاتو خبره به راغله، چې هونګ به د چين راډيو لپاره له ځينو افغان متخصصينو سره خبرې، مشورې کولې او د پښتو ـ روسي ډکشنرۍ به د حوالې يا ريفرينس په توګه کارولې.
په 2015 کال کې له ډېره مودې انتظار ورسته د پښتو ـ چيني قاموس د سوداګرېز مطبعې له خوا چاپ او خپور شو. دا قاموس 1390 مخونه لري او پېنځوس زره لغتونه په کې درج شوي دي. د قاموس په ليکلو کې د چې هونګ ځاي سره دوه نور ملګري سونګ کيانګمين او ژونګ مين ملاتړي او هم همکاري کړي. دوی داسي ګمان کولو چې دغه ډکشنري په دوو کالونو کې بشپړه او چاپ کړي. په 1981 کال کې اويا سلنه کار يې بشپړ شوی و.
دا پروژه په اصيل کې 36 کاله مخکې په 1978 کال کې د چين د سوداګرېزې مطبعې له خوا پيل شوه، کله چې د چين دولتي شورا د ملګرو ملتونو په يونيسکو کې د چين د نړيوال نفوذ د زياتوالو لپاره د 160 ژبو قاموسونو ليکلو امر صادر کړ.
په هرصورت د چين دغه لوی ملي ماموريت د چينايي چارواکو لخوا وځندول شو او بالاخره هير شو. چې هونګ ځاي د بهرنۍ ژبې ښوونکی د قاموس تدوين دنده او چارې په غاړه درلودې، نومورې يو له هغو کسانو څخه دی، چې لايې هم هرڅه په ياد دي. د قاموس د هرو زرو کلمو په بدل کې 80 چينايي ينه(13$)امريکايي ډالر يې ترلاسه کړل.
78 کلن پروفيسور ښاغلی چې هونګ ځاي هغمهال تقاعد کيدو ته نږدې شوي وه. ښاغلی چې هونګ ځاي دا مهال کله چې د پښتو ـ چيني ژبې قاموس يې تاليف کړ. نومورې په پيکينګ کې د چين د مخابراتو په پوهنتون کې پروفيسور و. پروفيسور ښاغلی چې هونګ ځاي چې د کومېرسيال پريس يا سوداګرېزې مطبعې سره يو ټرون لاسليک کړ. دغه چيني ـ پښتو قاموس 50000 مکالمې او 2,5 ميليونه توري لري. پروفيسور ښاغلی چې هونګ ځاي د ټرون له مخې د هرو 1000 تورو لپاره 80 چينايي ينه چې د 101هانګ کنګي ډالر چې ټوټال د 200000 ينه سره معادل دی، ترلاسه کړل. چې هونګ ځاي همدې پروفايل مجلې ته ويلي دي: ,, يو قاموس چې ليکي او نوی رامنځته کوي، يو ډول انعطاف ته اړتيا لري، يو ډول د مقاومت کولو ته اړتيا لري، يو ډول دوامداري اوسپنېزې ارادې ته اړتيا لري,,.
په 1955 کال کې چې هونګ د بېجينګ د بهرنيو مطالعاتو په پوهنتون کې د محصلې په وخت کې د افغانستان رسمي او ملي ژبه پښتو او د پښتونخوا د پښتو ژبې ډيالکټ يا لهجې زده کړه کولو لپاره غوره شو.
دا د چين حکومت د نوښتونو يوه برخه وه، څو دوی خپل تخصص په لږکيو ژبو کې پراخ کړي او په دې توګه په اسيا، افريقا او جنوبي امريکا کې د خپلو متحدينو سره اړيکې پياوړې کړي.
تر 1949 کاله پورې په چين کې له سلو څخه لږو چينايانو پښتو ژبه زده کړې وه او شاخوا 30 چينايانو کولې شول دغه قاموس وکاروي. کوم چې زياتره د چين په دولتي نړيواله راډيو، د شينوا دولتي خبرې اژانس او د ګمرکاتو اداري کارول.
پروفيسور ښاغلی چې هونګ ځاي ويلي و. چې هغه په اصل کې تمه درلوده، چې قاموس به په دوو يا دريو کلونو کې چمتو کړي او تر 1981 کال پورې 70 سلنه کار بشپړ کړي. خو يو ناڅاپه پروفيسور ښاغلی چې هونګ ځاي په پاکستان او افغانستان کې د چين په سفارتونو کې د حکومتي ځيړونکي او بيا د مخابراتو په پوهنتون کې د ژبې استاد په توګه وګمارل شو.
څه د پاسه 100000 کارټونه چې په هغه کې د چيني ـ پښتو ليکنې شوې وې، د اټکل شلو کلونو زياتو مودې راهيسې په الماريو کې تړلي پاتې وې.
پروفيسور ښاغلی چې هونګ ځاي د خپل تقاعد ورسته د پښتو ـ چيني قاموس يې د خپل ژوند دنده وبلله او خپل ټول عمري ورته وقف کړ. يوازې ټايپ کولو د هغه د ژوند ځلور کاله وخت ونيو او دوه کاله نور يې د متباقي قاموس بشپړولو وخت ونيولو.
پروفايل د عمومي مالوماتو يوه مجله ده، چې په زړه پورې خلکو يا مشهور شخصيتونو باندې تمرکز لري، د امازون ويبپاڼې د ليستونو او اعلانونو له مخې چې هونګ ځاي په پښتو ژبه کې دوه کتابونه خپاره کړي: يو د نحو د پوهيدو لپاره او بل يې د پښتو پرمختللي لوستونکو لپاره دی.
د چين د مخابراتو پوهنتون کې د پښتو ژبې استاد ښاغلی پروفيسور چې هونګ ځاي سره د افغانستان ډيلی اوټلوک، بي بي سي پښتو، کابل نيوز ټلويزيون او د شينوا خبرې اژانس، سي سي ټي وي په شمول لسګونو نورو رسنيو سره مرکې ترسره کړي دي.
د 1959 کال څخه تر 1962 کال پورې په افغانستان کې پوهاند چې هونګ خپلې نه هيريدونکی مطالعات تجربې او 36 کلنې زيار او زحمت کې لومړي د پښتو ـ چينايي ژبې قاموس تاليف کړي. نومورې پروفيسور وويلي: چې

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

قاموس د راتلونکی نسلونو لپاره د استاد په توګه کار ورکوي او هیله یې څرګنده کړه، چې دغه قاموس په خپل ژوند کې د چین او افغانستان ترمنځ د یو پل په توګه وګرځي، څو د دوه اړخیزو کولتوري تبادلو د اسانتیا لپاره د دواړو هیوادونو وګړي د خپلمنځي ډیپلوماتیکو اړیکو د تېنګیدو پرله پسې کلېزې ولمانځي. د دوه اړخیزو دوستانه تبادلو او دودېزې ملګرتیا پیاوړتیا ته دوام ورکولو کې یو ښه فرصت دی.
په 1936 کال پوهاند چې هونګ څاي د چین په شمال ختیځ کې دهیرونګ حیانګ ولایت کې د هیلون ښار کې زیږیدلي دی.
په 1959کال کې د چین د بهرنیو چارو وزارت له خوا د پښتو ژبې د زده کړې لپاره د کابل پوهنتون د کولتوري انستېټوت ته ولیږل شو، تر څو پښتو ژبه زده کړي او بیا په پرله پسې توګه د چین د مخابراتو په پوهنتون کې دنده ترسره کړي.
چې هونګ څاي نه یوازې د قاموس لیکوال و، بلکې د قاموس لومړنی لیدونکی او لوستونکي هم دی. استاد چې هونګ څاي او میرمن چې یاسیمن په ډیرو خوشالیو سره په ډیره مینه او هیجان سره دغه قاموس یې د لومړی ځل لپاره پرانیستلو. چینې ـ پښتو قاموس په ځانګړي طلایي رنګ بڼه کې چاپ شوي دی. قاموس په ښه کیفیت، مسلکیتوب، ریښتونولي رویه او ښه کار په کې له ورایه بریښي. په قاموس کې کارول شوي کاغذ او د چاپ تخنیکونه یې ډیر عالي غوره شوي دي. له دي زرین رنګ او له دې ښکلي ظرافت څخه څرګندیږي، چې د چاپ مطبعه دې قاموس ته هم په ډیره درنه سترګه کتلي دي.
پښتو د افغانستان یوه ملي او رسمي ژبه ده، داسي اټکل کیږي، په ټوله نړۍ کې 60 میلیونه خلک په پښتو ژبه خبرې کوي. خو په چین کې له سلو څخه لږ خلک په پښتو ژبه خبرې کولې، چې ډېرې یې د دولتي ادارو لکه خبرې اژانسونو او ګمرکونو کې کار کولو. د دې قاموس چاپ ورسته په چین کې سلګونو کسانو د پښتو ژبې زده کړې ته مخه کړې او پښتو په چین کې په پوهنتوني کچه تدریس کیږي.
کله چې چینایي ژبپوه په افغانستان کې په پښتو ژبه زده کړې کولې، یو شعار یې د ځان لپاره انتخاب کړي و، چې په لاندې ډول دی: ځوانان دي د سترو بریالیتوبونو د ترلاسه کولو لپاره خپلو موخو ته د رسیدو او بشري پرمختګ لپاره هڅې وکړي. زما موخه وطن ته خدمت کول وه، کله چې ما دغه دنده پر غاړه واخیستله، وپوهیدم، چې دا زما عمري موخه ده. خامخا به دغه قاموس بشپړوم او چاپوم. ځکه چې دا به د هیواد او ځوانانو لپاره ګټور پریوځي، دغه شعار دا مانا هم لري، همیش زما په زړه کې دي موخې یو خوځنده پیاوړي ځواک جوړولو.
چینایي پوهاند په تیرو شپږ دیرشو کلونو کې د دې قاموس کارونه او تالیف ګام په ګام تعقیب او ترسره کړي دي. دغه معیاري رسمي قاموس په چین او افغانستان کې د هغو خلکو لپاره ډیر ګټور پریوځي، کوم چې پښتو او چینې ژبې زده کول غواړي یا په دغو دواړو ژبو کې لیکل او یا کار کول غواړي. پښتو- چینې قاموس په انترنیټ کې د امازون سرویس له لورې هم پلورل کیږي او په نړۍ کې د ډیرو خلکو پام یې ځانته اړولي دی.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ